مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

هاجره حرکت ۲۰۲۱/۰۹/۱۲

دا د دې خاورې پټ راز دی

اې د دې وخت، واکداره تا ته وایم!

ته د بریا د تش هوس، پر نیلي مه سپریږه

چې یې ساتل دومره آسان هم نه دي

دا ستا په لاس تر اوسه

د ژوند له خوږ مداره

څومره بې شمیره انسانان، د نیستۍ کندې ته، نسکور لویدلي

هغه وژنې تندرونه

د ځان مرګو له خوا

په بشري تاریخ کې ثبت ، د هیریدلو نه دي

د دې هېواد پر هره تیګه لیکل شوي

او دا هیڅ د پاکیدلو نه دي

سترګې دې وغړوه

ته شه راپورته او ضمیر دې ویښ کړه

چې هغه ټولې سوزونکې خاطرې، خاطرې

درد منو زړونو کې، ژوندۍ پرتې دي

دوي د ځانمرګو له ناورین نه، لا وتلي نه دي

چې په چاودنو کې به

د انسانانو بدنونه په هوا کې تار په تار ورک شول

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د بورو میندو او پلرونو زړونه سوزي لا هم

تاسو د مرګ له سوداګرو سره

د دغه بڼ د سرو ګلونو پر سر

د ژوند سودا کړیده

تاسو قدرت غوښته، په هره بیه

اوس چې د واک پر ګدۍ کښیناستئ، ولس مو څاري

په یاد کې وساتئ چې اور به واخلئ

په اور سیزلي ارواح ګاني به مو وسوزوي

که مو موزي ګاونډیان

دغه زموږ د بربادیو، د لستوڼي ماران

دا د خپل واک رسۍ مو

خپله په خپل لاس کې ونه نیوله

نو ښه په دې خبر شئ

له خپله ځانه به لمبه شئ او لوګي به مو هوا کې ورک شي

دا د دې خاورې پټ راز

چې دغه لاره اورنۍ ده اورده

غرځنۍ سپینې پاپۍ سوزي، سوزي

او په خاوره د افغان کې

د بل لاس نیالګي وچیږي

د بل لاس نیالګی وچیږي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ